څوک چې: لا إله إلا الله، وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد، وهو على کل شيء قدير، په ورځ کې سل ځلې ووايي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې: لا إله إلا الله، وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد، وهو على کل شيء قدير، په ورځ کې سل ځلې ووايي، دا به د لسو غلامانو د آزادولو برابر وي، او د هغه لپاره به سل نيکۍ وليکل شي، سل بدۍ به ترې لرې شي او په هغه ورځ کې به ورته تر بېګا پورې د شيطان پر وړاندې مانع وګرځي، او هېڅوک به د هغه په څېر دغوره عمل سره رانه شي، مګر هغه څوک چې تر دې يې هم زيات عمل کړی وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې چا: (لا إله) نشته حق اله او معبود (إلا الله، وحده لا شريك له) مګر يو الله دی چې شريک نه لري؛ نه په الوهيت، نه په ربوبيت او نه په خپلو نومونو او صفاتو کې.(له الملك) هغه لره ټول واک او تدبير دی، (وله الحمد) او هغه لره ستاينه ده په هر هغه څه کې چې پيدا کړی او اندازه کړی يې دی، (وهو على کل شيء قدير) او هغه پر هر څه قادر دی، نه کوم رقيب لري او نه مدافع، او هغه چې څه ونه غواړي هغه نه کېږي. څوک چې دغه ذکر په ورځ کې سل ځلې ووايي او تکرار يې کړي، نو د الله په نزد د هغه لپاره لکه د لسو غلامانو د آزادولو اجر دی، او پدې سره به ورته سل نيکۍ او په جنت کې سل درجې وليکل شي، او سل بدۍ به ترې لرې شي، او دا به ورته د شيطان پر وړاندې ساتونکي او دفاعي قلعه وي او له شيطان او د هغه له ملګرو څخه به يې ساتنه کوي، تر دې چې لمر ډوب شي او بيګا داخل شي، د قيامت په ورځ به د ده نه بل هېڅوک غوره نه وي، مګر هغه څوک چې لده څخه يې زيات عمل کړی وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65905